
# ګالیلیؤ په ډاګه وایي : «ځان پؤهول غواړم»


لیکونکی:        رابرټ هارګریوس

ژباړه او لنډیز:  نورالله اتل

په ټول مسیحي پېر کښې هر یوۀ مسیحي دا منلې وه چي د اینجیل هر توری هرمرو ریښتونی دی او د پوښتنې پکښې هیڅ ګای نشته. د بېلګې په تؤګه، خدای دغه نړۍ په اوؤ ورځؤ کښې رغولې ده، د اینسان توکم د ادم او هوا څخه راپیل شوی دی  مځکه د ټؤل جهان یوا داسي منځکی دی چې لمر او ورباندي ښاوخوا چورلیږي.

Ketabton.com

د لوتر په بیاسمون پسې چي کومه پېړۍ راغله په هغې کښې دغه ډول ګایونه ،چي په سربېرنه تؤګه همېښني او ریښتوني ښکارېدل،  لومړی تر شک لاندي ونیول شول او بیا ډېر ژر له پوښتنې سره مخامخ شول. شک او پوښتنې ته چي کوم څیز خوځښت ورکولؤ هغه د وګړیو هغه ورځ په ورځ زیاتېدونکې پوهنه وه چي هغوی د ښاخوا چاپېریال په باره کښې  پیدا کوله. پخپله د لوتر په ژوند کښې هغوی په موندنې او لټون پسې سمندري یونونه او مزلونه وکول او پوه شول چي مځکه غونډه ده. ستورپېژندنې او جوغرافیه پوهنې دومره پرمختګ کړی ؤ چي دغسي سمندري مزلونؤ ته یې لاره هواره کړه.  د شپاړسمې پېړۍ په نیمایي کښې، د وېرسپوچي په نامۀ یو کس د نړۍ دغسي نخچې کښلې وې چي په مټ یې څېړونکي وتوانېدل چي اوس د پخوا په پرتله خپله لاره په پوره رکوالي او کره تؤب سره ووهي. هینري مزلګر د ګڼتري (ریاضي) او ستورپېژنې یو ښؤونځی ورغولؤ چي پکښې به مزلوهونکؤ په هسک کښې  د ستؤریؤ د ځای ځایګي زدکړه کوله. له هغه وروسته نؤ د دوی لپاره بېخي اسانه شوه چي د ستؤرؤ د ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځایګي په مرسته په سمندرونو کښې د تګ راتګ لپاره لوری او لؤدن پیدا کي. موکناتیسي لؤدنښؤد (compass) دومره اسانتیا پیدا کړه چي اوس به هغوی په سمندر کښې تر دومره لرې پوري تللای شول چي په اونیؤ اونیؤ او کله به یې ان په میاشتؤ میاشتؤ وچه مځکه نۀ لیدله.

کاري اړتیاؤ یوه داسي اډانه وزېږوله چي په ګرؤهه او پدل باندي نۀ وه ولاړه بلکې په داسي ریښتیاؤ باندي ډډه لګولې وه چي بېخي په کره تؤب او پام سره یې څارنه او څېړنه کېدله. د منځنې پېر پؤهنې لکه الکیمي او ستؤر پېژندنه ،چي ساینسي خو بېخي نۀ وې مګر ساینسوزمه وې ، اوس ځای ساینسي لټون لره پرېښؤدلؤ. د همدغه ساینسي لټون په مټ په راتلونکؤ درېیؤ پېړیؤ کښې اینسان خپل چاپېریال بدل کؤ. او کله چي یې دغه کار وپه بریالیتؤب سره ترسره کړؤ نو هاله وتوانېدلؤ چي هغه سؤچ هم بېخي بدل کي چي د خپل ځان او په دې جهان کښې د خپل ځای په باره کښې به یې کولؤ. نؤر نؤ هغؤ داسي سؤچ نۀ کولؤ چي یوازي او یوازي بس د دۀ لپاره دا ټؤل جهان پینځول شوی دی. بلکې دا یې منلې وه چي هغه یو ناتوانه او کمینه ژوی دی چي بېخي لنډ ژوند لري او په یوې ورې ټیکۍ (Planet) باندي ژوند او ژواک کوي چي مځکه یې نوم دی، چي په چارچاپېره خواره واره او ارت بېرت جهان کښې د یوۀ ټاپي، یوې دانې او یا یوۀ اټم ځای لري او بس.

خو زؤړ سؤچ او زړه ګرؤهه هم په ځای ارامه پاته نۀ شوه. په تېره بیا زړه مسېهي کلیسا خو بېخي دغه ګای ته نۀ وه تیاره. هغې خو بېخي په لرکسي (ټیلیسکؤپ) کښې له کتلؤ څخه نټه وکوله چي دا یې زباتوله چي نؤر نؤ اینسان د جهان په منځکي کښې ځایګی نۀ لري. دا یو کوچنی ګای نۀ ؤ بلکې دومره غټ ؤ چي هغۀ ګرؤهه یې تر سختې پوښتنې لاندي راوستله په کومې باندي چي له تؤرپېره راوروسته ټول لوېدیځ ښارتنؤب (Civilization)ولاړ ؤ. د امیانؤ لپاره خو دغه نوی ګای بېخي بېمانا ښکاره کېدلؤ. هغوی به په ډېره ساده تؤګه ویل، «که چرته مځکه چورلي نؤ بیا به مرغۍ څنګه خپله ځاله پیدا کوي، او د اینسانان به څنګه په خپل ځای باندي ولاړ پاته کېدلای شي ، او داسي ... ».

مګر د دینپؤهانؤ ، ګروهپېژانؤ او شیخانؤ لپاره دغه څېړنې ډېرې بوژنونکې وې. ځکه چي دغؤ څېړنؤ به ویل چي د هسک او مځکې تر منځ خو بېخي توپیر نشته. په مځکه کښې چي د خوځښت کوم کانون کار کوي د هسک خوځښت هم هوبهو په هغه کانون باندي چلیږي. په بله مانا، موږ ویلای شو چي موږ په لالمخه په هسک کښې یو او که دا وواېو چي پخپله هسک دلته په مځکه باندي دی نؤ هم بده به نۀ وي. دغو څېړنؤ دغسي نؤر بېشمېره ټکي لرل چي له سپېڅلي اینجیل سره په ټکر کښې ول او اپوټه پیغام یې ورکولؤ. مګر بلې خوا ته ګرؤهه دا وه چي اینجیل خو د خدای وینا ده، نؤ لځکه دغه څېړنې نه یوازی ناسمې بلکې کوفري هم دي.

په دغؤ ساینسپوهانؤ او څېړونکؤ کښې یم هم ګالیلیؤ ؤ. هغه په کال **۱۵۶۴** کښې زېږېدلی ؤ کوم چي د شېکسپیر د زېږېدنې کال هم دي. ګالیلیؤ د اټالیې د بیابیداریۍ وروستی ستر کس ؤ. لومړی هغه د جیسویټانؤ لخوا د اومبروسا په مدرسه کښې وروزل شؤ چېرته چي د دۀ د ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند لپاره د ستؤرپېژندنې سره ولګېدله او مینه یې ورسره پیدا شوه. په ۱۷ کلنۍ کښې هغۀ له مدرسې راووتلؤ او سملاسي یې د ارستؤ سکولاستیکي سؤچ ته مخه کړه. ډېر تکړه موسیکي پؤه او انځورکښ ورڅخه جؤړ شؤ. په لومړي سر کښې هغه د روغتیاپوهنې لپاره پوهنتون ته ولاړؤ مګر یوه ورځ یې ناساپه د جیومیټرۍ په یوۀ لیکچر کښې برخه واخیستله او له ساینس او ګڼتري (ریاضي) سره یې مینه پیدا شوله. څلؤر کاله وروسته یې روغتیاپؤهنه بېخي پرېښؤدله او خپل پاته ژوند یې ګڼتري او فیزیک ته ورکؤ. په پای کښې هغه په پادوا پوهنتون کښې د ګڼتري د څانګې مشر شؤ چېرته چي هغۀ د خپل ژوند اتلس بریالي او پینځونکي کلونه تېر کړل او په نوي ساینس کښې یې د خوځښتونو، او خوځنده څیزونو د ځانګړنؤ د پېژندنې بنسټونه واچول.

که څه هم له هغۀ سره خپلؤ ملګرؤ او کورنۍ خورا مینه کوله، مګر د پؤهانؤ او ښؤونکؤ په منځ کښې یې ښه نوم نۀ لرلؤ،ځکه چي هغۀ به ورته هر وخت سپکول. په تېره بیا هغۀ به د ارستؤ د لارې لارویانؤ ته بدرد ویل چا چي د فیزیک، ستؤرپېژندنې او خوځښت خورا ښکولی مګر ناسم کانونونه وړاندي کول چي سکولاستیکه فلسفه به ورته ویل کېدله او د کلیسا لخوا یې ښؤونه کېدله. ۳۷۰ کاله تر مسیها مخکې، ارستؤ د اپلاتون شاګرد ؤ. هغۀ یو تکړه فلسفي ؤ او د جهان د جوړښت ، رغاونې او اډانې څېړنه یې کړې وه. د هغۀ چورتونه لومړی اربي ژبې ته او بیا له اربي څخه لوېدیځو ژبؤ ته وژباړل شول. په دغه وخت کښې مسیېهي نړۍ له پوهې بېخي تشه او پوچه وه. مسیېهي شیخان په دې لټه کښې ول چي له یوې نۀ یو خوا پوهنې ته لاسرسی ولري. نو لځکه یې د تامس اکیناس تر څارنې لاندي د ارستؤ چورتونؤ ته له مسیېهي ښؤونؤ سره په داسي ډول سمون ورکؤ چي یو وخت داسي راغلؤ چي هغه بېخي پخپله د مسیېهي ګرؤهې برخه ښکارېدل او که به چا ټکر ورسره کولؤ نو دا له کوفر ویلؤ سره برابره وه.

په پای کې د همدې ټکر له لاسه د ګالیلیؤ ستوری هم په ډوبېدلؤ شؤ. هغۀ لالمخه د خپلې پؤهې او څېړنې په مټ د ارستؤ د د خوزښت کسنه (Theory of Motion) هیسته اچولې وه؛ او اوس د ارستؤ پر ستورپېژندنې باندې نورې نانددرۍ راپؤرته شوې وې. یونانیانؤ ته خو لا پخوا جوته شوې وه چي مځکه غونډه ده، لومړی دا چي د تندر په مهال چي د مځکې سؤرې پر سپوږمۍ پرېوځي هغه ګرد وي، او بل دا چي بېلابېل ستوري په بېلابېلؤ ځایځایګیو باندي ښکارېږي. مګر ارستؤ داسي انګېرلې وه چي مځکه ارامه په خپل ځای باندي ولاړه ده او دا نؤر هسک ورباندي شاوخوا چولېږي. هغؤی ځکه داسي ویل چي په هسک کښې چي د ستوریو کومې غونچې دي هغه خپل ځایځایګی نه بدلوي، نو هغوی داسي د مځکې د شاوخوا چورلي لکه لمر او سپوږمۍ چي چورلي. ورسته بیا د ارستؤ د یوۀ شاګرد، پټولمي، تر څارنې لاندي یو داسي جهان وکښل شؤ چي د ارامې مځکې شاوخوا پینځه پنځوس ناڅرګندې غونډکۍ (*Spheres* ) چورلېدلې او له ځانه سره یې لمر، سپوږمۍ او نؤر ستوري هم لېږدول.

دا د ساینس له ناپړیټؤ (عجایبؤ) څخه یوه ناپړیټه ده چي د دې جهان یوه ناسمه پېژندنه تر ډېرو پاته شوه او د یونانیانو لخوا ریښتیا او سمې پېژندنې پایښت و نۀ موندلؤ. ډیموکریټس او اریسټارکس دواړؤ داسي کسنې وړاندي کړې وې چي د ارستؤ په پرتله ریښتیا ته ډېرې نیژدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي مګر د هغوی کارونه پاته نۀ شول او ورک شول. د ارسطو کسنې د مسیحي شیخانو لاس ته ولوېدلې او د هغوی لپاره خورا په زړه پوري وې ځکه چي هرهر ټکي یې د سپېڅلي لوستني له هرې کرښې سره سمون خوړلو، نو لځکه خو یې په مسیحي ښوونو په منځ کښې هغه ځای پیدا کړو کوم چي په د ایسا مسیه د بیا راژوندي کېدلو لرلو او یا په لومړي سره کښې د هغۀ سپېڅلې زوکړې لرلو.

په کال **۱۵۴۳** کښې، د ګالیلیو تر زوکړې شل کاله پېښ، ځیرک پولي (*Polish*) ستوړپېژندونکي، نیکولس کوپرنیکس، د هسک د ستوریو خوزښت په ډېره اسانه توګه نړۍ ته وروپېژندلو. هغۀ لمر د جهان په منځ کښې ونیولو او ویل یې چي مځکه شاوخوا ورباندي چورلي. د کوپرنیکس ستر تیسیز، چي *« هسکینه ګردۀ چورلېدا»* نومېدله، اوهغۀ دربیم پاپا ته یې ورپېرزو کړې وه. مګر د هغۀ په تیسیز پوري پینځوس کاله ټوکې کېدلې. زیاترو پوهانو خو د هغۀ ګڼتره د هیڅ جوګه هم نۀ بلله، او د کلیسا باباګان دې ته تیار نۀ ول چي د هغۀ سوچ او چورت ته دي هم په «خدایي رازونو» کښې ځای ورکي.

مګر د ګالیلیو لپاره دکوپرنیکس کسنه یو ستر اوښتون ؤ. د هغۀ ځواکمن سوچ په دې ورسېدلو چي دا به هرومرو رېښتیا وي. هغۀ لا په **۱۵۹۷** کښې په پراګ کښې خپل دوست، جانس کېپلر، ته ولیکل، «چي پکار ده د اینسانانو سوچونه له نوي سره په نوي ډول واچول شي». هغۀ ته په خپل سدبد کښې جوته شوې وه چي کسنه خو سمه ده، مګر هغۀ یې زباتولای نه شوه. او ترڅو چي هغۀ پخپله لیدلای او شمېرلای نۀ شوه نو تر هغو پوري یې دا نۀ ویل چي رېښتیا ده. که څه هم هغۀ خپلو نیژدې دوستانو ته څو کاله پخوا ویلي ول چي دی پخپله د پنځون (*Nature*) د ډېرو اپسندو (*Phenomena*) د پېژندنې لپاره د کوپرنیکس لېمون (*Opinion*) کاروي. مګر ګالیلیو خپل سوچ تر دوؤلسو کلو پوري نوډر هم له ځانه سره پټ وساتلو، او داسي ویل کیږي چي په دې ترخ کې به یې د ارسطو د کسنو لوست هم شاګردانو ته ورکولو، سره له دې چي ښه پوهېدلو چي هغه ناسمې وې.

په دې منځ کښې د تاریخ یوه نېکرغه پېښه وشوه. هغه درسته راپیدا شوه چي د جهان په باره کښې یې د کلیسا لېمون ناسم زباتولو. د کال **۱۶۰۹** په جون یا جولای میاشت کښې ګالیلیو د لید په یوې درستې یوه تجربه ترسره کړه. دغه لیددرسته لومړی یوه هالنډي جوړه کړې وه چي ډېر لري څیزونه به یې خورا جوت او کره ښکاره کول. کله چي دغه درسته د ګالیلیو په لاس ورغله نو هغۀ په ډېر ځېرکوالي او کارنده توګه وکاروله. په یوۀ وخت کښې هغۀ په خپلې کسنې او په دغې درستې دوارو باندي کار کولو. لږ وروسته هغۀ د کږلوډن کسنه (*Theory of Refraction*) و موندله . د دغې کسنې په مټ هغه په دې وپوهېدلو چي د سکې د یوۀ نل په دوارو سرونو باندي چي هینداري ولګول شي، د دوارو شیشو یوه یوه خوا دې پتلې وي مګر په دوارو شیشو کښېي دې د یوې بله خوا دې دباندي خوا ته پړسېدلې وي او د بلې شیشې دې دننه هغه کوپه وي. وروسته دغه د تولې په شان درسته په یوې دربلې باندي ولګول شوه. په دې توګه ګالیلیو د نړۍ لومړی لرکسی (*Telescope*)جوړ کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتلونکې دوؤلس میاشتې له هغه څخه نؤر هرڅه هېر ول بس په همدغه کار لګیا ؤ، بېلابېلې شیشې به یې سولولې او سکښتلې، او هڅ او هاند به یې کولؤ چې تر ښې لا ښه درسته ورغوي. په ۱۲۰۹ کښې هغۀ خپله ترټؤلؤ ښه درسته په وېنس کښې د سېنټ مارکر کلیسا لوړترینې میناري ته وخېژوله. د هغۀ ځای واکمن او شیخان هغۀ وخت هک پک شول چې کله یې و لیدل چې د دغې درستې په مټ اوس دوی ترپخوا خپل دوښمن دوه ګنټې (ساعته) مخکې لیدلای شي کله چې هغۀ د دوی په خاوره باندي د یرغل په نیامت راروان وي. تجربه ډېره اغېزناکه وه؛ ګالیلیؤ ځای پرځای په یوې لوړې چوکۍ باندي وګومارل شؤ او خورا غټه کلنۍ تنخا یې هم ورکړه.

د همدغه کال په پای کښې هغۀ د پودا په سیمه کښې خپل لرکسی د شپې لخوا د هسک ستؤریؤ ته سیدۀ کړؤ. تر ټؤلؤ لومړی هغۀ د سپؤږمۍ سیل وکولؤ او ډېر ژر یې پکښې غرونه وموندل. په دې تؤګه یې هغه ګرؤهه بېباوره کړه چې ویل به یې هسکینې پیکرې ټولې ښویې هوارې، بېخي یو ډول، غونډې منډې دي، او له یوه اسماني جوهر څخه جوړې دي چې «ایتر» ورته وایي. په راتلونکؤ څو له درز او جؤشه ډکؤ میاشتؤ کښې ګالیلیؤ په کهکشان کښې دومره زیات ستوري ولیدل چې بېخي د چا باور نۀ کېدلؤ. هغۀ ځینه داسي ستوري هم وموندل چې تراوسه یې هیچا نومونۀ هم نۀ پېژندل. اوس نؤ هغه ځای او ګړی رارسېدلې وه چې هغۀ په غوڅه توګه پرېکړه وکوي. او هغۀ پرېکړه وهم کړه چې «مځکه تر سپوږمۍ لمخه پخپله یوه چورلېدونکې پیکره ده»، او هغسي ارامه او ولاړه نۀ ده لکه څنګه چې ارستؤ بللې وه.

هغه په ډېره خوشالۍ د جنورۍ په اومه نېټه کال ۱۲۱۰ د ماښام په سر کښې خپل ښه ترین لرکسی د جیوپیټر ستوري ته سیخ کړؤ. په لومړۍ شپه د هغۀ تلوسه هغه ګړۍ زیاته شوه چې په یوه نېغه لیکه کښې پراته درې واړه مګر ډېر ځلاند ستوري یې ولیدل چې دوه یې د جیوپیټر ختیځ ته او یو یې لوېدیځ ته پروت ؤ. په دا بله شپه هغه بیا وکتل. مګر دا ځل ستوري له خپله ځایه خوزېدلي ول. درې واړه د جیوپیټر لوېدیځ ته په یوې سیده لیکې کښې پراته ول. مانا یې دا وه چې ستوري د یوه بل په پرتله ښوري راښوري. مګر زړې ستورپېژندنې دا منل څه؟ ایا په دې باندي دۀ زباتولای شول چې کوپرنیکس ریښتونی ؤ؟

وریسې په دا بله شپه هغه ډېر په نارامۍ کوت (انتظار) کول چې دغه ابسنده (*Phenomenon*)یو ځل بیا ګوري. واړه ستوري یو ځل بیا ښؤرېدلي ول. اوس په هغؤ کښې یوازي دوه پاته ول، او دواړه د جیوپیټر په لوېدیز کښې ول. اوس نؤ هغه بېخي ډاډه ؤ چې دا یوازي د جیوپیټر نه بلکې د ستوریو خپل خوزښت هم دی. په شپؤ شپؤ هغه د دغؤ دریو ستوریو لنداره کوله چې د جیوپیټر شاوخوا به یې نڅا کوله. وروسته هغه یو څلورم ستوری هم ولیدلؤ چې په هغو دریو ستوریو پسې نېغ نیښتی ؤ. بس اوس نو هغه ویلای شول چې ستوري په یوه ګاړه (*Orbit*) کښې ګرځي راګرځي. جیوپیټر څلور سپوږمۍ لرلې. هغه تر پینځؤ ورځؤ پوري لګیا ؤ او خپلې تجربې یې کولې تر څؤ چې یې هیڅ شک په چورت کښې پاته نۀ شؤ چې : کوپرنیکس بېخي ریښتونی ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه خپله څېړنه ولیکله او بیا یې خپلې لیکنې ته د لارورکي ایلچي (*Nuncius Siderius* ) نوم یې ورکړ. لا خو هغه پروا نه لرله چې د دۀ د څېړنې به په کلیسا باندې څه اغېزه وشي؛ هغه یوازې د خپلو پخوانو همکارو ښوونکو  څخه وېره لرله. همداسې وشول. د پوهنې په ډگر کښې د هغه همکارو ښوونکو ته چې کله د هغه څېړنه وړاندې شوه نو خوار ټوکې ټکالې یې ورپورې وکولې.  کله چې هغۀ دوی راوغوښتل چې پخپله د دۀ په لرکسي کښې وگوري. نۀ ځینه یې رانۀ غلل. او کوم چې راغلل په هغۀ کښې ځینو ویل چې په لرکسي کښې خو یې هیڅ هم ونۀ لیدل او نۀرو بیا د هغۀ لرکسی تشه د ماشومانو یوه نانزکه وبلله.

کله چې د گالیلیو له خپلو همکارانو سره په نانډریو اخته و نو کلیسا بېخي کار نۀ پکښې لرلو. او گالیلیو هم د وېنس د سیمې د سرکار تر سوري لاندې ژوند کولو، چې هر وخت به یې کلیسا ته دړکې ورکولې چې د اینگلستان په شان به ټولې شاندې او وندنې (Relations) له کلیسا سره غوڅې کې. په کال ۱۶۱۰ کښې هغۀ ته بلنه ورکړ شوه چې په خپل پلارني ټیسکوني کښې د گېټرې په  ځانگې کښې د لوی ډېوک کوسیمو مشر ښوونکی شي. د هغۀ نوې دندې او چوکۍ هغۀ ته خورا ډېر وخت په لاس ورکړو چې خپله څېړنه نوره هم مخ ته بوځي.  اوس نو هغۀ خورا ستر نیامت او هوډ لرلو چې روم ته به ځي او هلته به پاپا ته د خپلې څېړنې د ریښتینولۍ په باره کښې وایي او کلیسا به د همېشه لپاره د ارسټو او پټولمي له غلامۍ ازادوي.  مگر دا یو لېونتوب و چې ټول ژوند د گالیلیو په سر کښې پاته و.

هغه روم ته د دې لپاره روان و چې په مسېحي گروهې ته گټه ورسوي نۀ دا چې ډغره ورسره ووهي. گالیلیو له خورا سترو هیلو سره روم ته روان شو چې د خپل لرکسي موندنې هلته ډاگیزې کې. په لومړي سر کښې هلته د دۀ د څېړنو خورا تود هرکلی وشو او هیچا یې موندنې ناسمې ونۀ بللې او د یوۀ لوی اتل په سترگه به ورته کتل کېدل.  دا د گالیلیو لپاره یو ستر بری و. هغۀ اوس اوه څلوېښت کلن شوی و کله چې یې د خپلې څېړنې بریا ولیدله نو لوی یې ولگېدلو او بېرت فلورېنس ته راستون شو.  هغۀ هلته په بابا کالویس او د واټیکن په نورو ستورپوهانو باندې منلې وه چې نور نو د ارسټو سوچ سم نۀ دی او پکار ده چې دوی ورپسې ولاړ نۀ شي.  که څه هم دوی دې ته هم تیار نۀ ول چې په کوپرنیکس پسې ولاړ شي مگر کم ترکمه دا یې ومنله چې هسک نور پټوني (رازونه) هم لري  نۀ یوازې هغه ځینه  چې دوی تر اوسه ورسره بلد شوي ول. دوی په دې پوه شول چې د وېنس بېلابېل پړوانه  په غوڅه توگه دا زباتوي چې دغه ستوری په لمر شاوخوا گرځي راگرځي. اوس دومره پاته وه چې کلیسا دا هم ومني چې پخپله مځکه هم په لمر شاوخوا گرځي. مگر داسې ونۀ شول. کله چې هغۀ له رومه بریالی راستون شو اته میاشتې لا نۀ وې تېرې شوې چې له هغه څخه گروېږنې پیل شوې. او د همدې گروېږندې له لاسه یې پاته دېرش کاله په کوفرویلو د تورونو تر تور سوري لاندې تېر کړو.

دا نابېره څه داسې بد کار وشو چې دا ناورین پیل شو؟ دا یوازې د ساینس او کلیسا ډغره نۀ وه بلکې د ځینو کسانو د رخې، چلوټو، ناپوهۍ، سرټمبه توب او وېرې له لاسه گالیلیو ټول ژوند خوارځار او اوتر اوتر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چلوتې اوناندرۍ لومړی زړی د فلسفې د یوۀ ښؤونکې لخوا وکړل شؤ. هغۀ کوسیمؤ بوسکالیا نومېدلؤ او په پیزا پوهنتون کښې ښؤونکی ؤ. هغه یوه ورځ د ستر ډیوک د مؤر په غوړ کښې په پسپسي وویل چې ګالیلیؤ وایي مځکه ولاړه نه ده بلکې ګرځي. هغه یوه خورا دیني او ګروهندویه ښځه وه او هر څه چې په پاک اینجیل کښې لیکل شوي ول بس په هغؤ یې کلکه ګرؤهه لرله. هغې د ګالیلیؤ دوست، بېنډېټؤ کاستېلي وروغوښتلؤ او د ګالیلیؤ په باره کښې یې له هغۀ څخه پوښتنې وکولې.

کاستېلي ډېر ژر ګالیلیؤ اګاه کړؤ. په ځواب کښې ګالیلیؤ هغۀ ته د ساینس او دین د شاندؤ په باره کښې یو اوږد لیک ولیکلؤ. مګر د همدغه لیک له لاسه خو د ګالیلیؤ او کلیسا تر منځ لومړی نیښته پیدا شوه. ځکه چې یوۀ امي کس د دینپؤهنې په نابلده نړۍ کښې پل کښېښؤدلؤ. په ناګاهۍ کښې ګالیلیؤ خپلؤ دوښمنانؤ ته هغه درسته په لاس کښې ورکړه چې هغؤ ورته له ډېره وخته کوت کولؤ.

هغۀ غوښتل چې کلیسا په دې وپوهوي چې کوپرنیکس ریښتیا وایي. مګر څه چې هغۀ غوښتل د لیک پایله د هغۀ اپوټه راووتله. نیژدې تر یوۀ کاله پوري لیک د لوستؤ او پؤهؤ کسانؤ په منځ کښې لاس په لاس ګرځېدلؤ. مګر په پای کښې هغۀ د ګالیلیؤ د دوښمنانؤ ګوتؤ ته هم ورغلؤ.

په دې ترځ کښې د کلیسا چارواکؤ زیات وخت د اینجیل په لوستلؤ تېرولؤ او ډېر سوچ به یې ورباندې کولؤ. په پای کښې هغوی په دې ورسېدل چې د اینجیل ایتونه د ګالیلیؤ له څېړنؤ سره اړخ نۀ لګوي، په تېره بیا دغه لاندیني دوه ایتونه، چې لومړی یې له یوشوا (Joshua) څخه دی:

لمره، ته په ګیبیون باندې ودرېږه.
او سپوږمۍ ته، د اجالون په وادۍ کښې .
او لمر په ارام ودرېدلؤ، او سپوږمۍ هم تم شوه.
ترڅؤ چې ملت له خپله دوښمنه غچ واخیستلؤ.

د کلیسا پلارانؤ به پوښتنه کوله چې لمر څنګه درېدلای شي چې کوپرنیکس وایي چې هغه بېخي هیڅکله خوزېدلی نۀ دی؟ او دویم په نولسم اشلوک (Psalm) کښې راغلی دی چې نور هم په کلکه د لمر خوزښت زباتوي :

هغۀ یو چنغؤل دی چې له خونې راوځي،
هغۀ د یوۀ غښتلي سړي غوندې زغاسته خوښوي.
هغۀ د هسک له سرۀ پرمخ ځي
او د هغۀ په پای ببرته راګرځي.

هغوی دغه راز نور هم ډېر اشلوکونه د زبات په توګه وړاندې کړل. د دغو اشلوکونو ژبه دومره اغېزناکه او ځواکمنه وه چې ګالیلیو یې ډېر په اسانۍ په لومه کښې بندولای شؤ. او ګالیلیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي يو ډېر له برمه او پرتمه ډک کس ؤ په همدومره اسانۍ په دغه خور شوي جال کښې بنديوان شؤ.

خپلو شکوميو ګاليليو ته وويل چي نور دي ځان نه ښکاروي او يو څه دي خپل ګای پټ وساتي، مانا نا څه دي له دروغو کار واخلي. مګر له هغه خوار سره بيا دا غم ؤ چي ټولې کاميابۍ او موندنې به يې په اوبو لاهو شي، نو ځکه خو يې غوښتنه وکوله چي د دۀ ليک دي په روم کښې د بابا کلاويس مخې ته وړاندي کړ شي او ورسره پخپله لوی پاپا ته که داسي شونې وي. د ۱۷۱۴ او ۱۷۱۵ کلونو په ترڅ کې ليکونه د فلارنس او روم تر ميان تېرېېر کېدل، مګر ډېری د روم لخوا راتلل. اوس نو د ګاليليو په کسنؤ (theories) پورې ځينو کسانؤ خورا ستر ستر ګايونه تړل چي ده خوارکي پخپله په دې هکله کله ټک هم نۀ ؤ وهلی. ځينو به ويل چي ګاليليؤ ويلي دي چي په سپوږمۍ کښې هم اينسانان ژوند کوي. او بيا به يې ژر دا پوښتنې راپورته کړې چي د دغو سپوږمۍ مېښتو اينسانانؤ له ادم او هوا سره کومه د وينې شانده شته او کنه، او يا دا چي هغوی به د نوها پيغمبر په کيښتۍ کښې سپاره شوي وي او که نه؟ شيخ بېلارماين چي د دينپوهانؤ مشر ؤ وَ ټؤلؤ ته وويل، چا چي ليکلي دي چي لمر له خپله ځايه راخيژي او بيا لوېږي او بيا بيا داسي کيږي هغه سليمان پيغمبر ؤ. نۀ يوازي دا چي هغه دا وينا د خداي په ښؤونې کوله بلکې هغه ترټؤلؤ هوښيار او پوه کس هم ؤ.

کله چي کاليليؤ پوه شو چي اوس کيسې داستاني ښه غوره کړه نو يې پرېکړه وکوله چي پخپله رؤم ته ولاړ شي او هلته د کوپرنيکس د کسنې ريښتينولي د نؤرؤ په مخ کښې زباته کي. هغه ډاډۀ ؤ چي واټيکن به يې ورسره ومني چي د دۀ څېړنې ښخي له کاتؤليکي ښؤونؤ سره سمون خوري. په کال ۱۷۱۵ کې هغه چي کله رؤم ته روان شؤ نو داسي ؤ لکه يو ښاغلی هواري او يو ډېر له جوشه ډک ځوان.

ګاليليؤ چي کله رؤم ته ورسېدلؤ نؤ ډېر زيات هيله من ؤ. هغه ځواکن شوی ؤ او په ځان ډېر ډاډۀ ؤ او اوس اوس يې روغتيا هم ډېره ښه شوې وه ځکه چي د جوړونؤ درد يې ورک شوی ؤ چي د فلارنس د بېکاره هوا له کبله ورپېښ شوی ؤ. اوس نؤ ناندريۍ ښخي ډاګېزې شوې وې او ګاليليؤ خوښ ؤ چي پر دې باندي وراسه وکوي. کله چي د دوی تر منځ په رؤم کښې ريښتينۍ او ناندرۍ روانې وې نو ګاليليؤ په خپلؤ ګايونؤ کښې ډېر زورور ؤ. هغۀ به د شيخانؤ پوښتنې په داسې توګه ورغبرګې کړې چي هغوی به ښخي ساده ګان او ناپوهان ښکاره کېدل.

کله چي کومه پايله او پرېکړه ترلاسه کېدلای نۀ شوه نو په پای کښې لوی پاپا وويل چي دغه مرنه دي سپېڅلي دوتر (Holly Office) ته ولېږل شي چي د دينپؤهنې په رڼا کښې يې غوڅه کي. د سپېڅلي دوتر يوؤلسؤ غړيو د کوپرنيکس په کسنو باندي د دينپؤهنې په رڼا کښې سؤچ وکولؤ او بيا يې په خپل منځ کښې وراسه وکوله او په پای کښې يې داسي غوڅه کړه:« دا چي وايي چي مځکه د ولاړ او تم لمر شاوخوا چولي، يو لېونتؤب او بهؤلتؤب دی. او مورږ په ورته په دستوري توګه کوفرغرونه وايو. او داچي وايي چي مځکه پخپله هم څرخي هم زمورږ په ګرؤهه کښې سمه نۀ ده».

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو څو روځې وروسته کارډينل بېلارماين وګومار شو چې ګاليليو ته ووايي چې نور دې نو له دغو کارونو ودرېږي. دغه کيسه په دوو ډولونو تر موږ پوري رارسېدلې ده. ځينه کسان وايي چې ګاليليو ورسره و منله چې نور به نو د کوپرنيکس د کسنو ننګه نه کوي. او ځينه نور بيا وايي چې هغه و منل چې نور به له دغې بنديز شوې کسنې څخه بېخي لاس اخلي او نه بې خپلوي، نه به يې ننګه کوي او نه به يې چا ته ښوونه کوي.

دا ګړۍ خو ګاليليو په يوه نه يوه ډول يوه بريا ګڼلې وه. هغه له هر ډول سزا او ترټلو ازاد شوی و، له هغه سره پخپله پاپا مخامخ رغېدلی و چا چې د پرلپسې درناوي ډاډ هم ورکړی و او بله دا چې کومه فتوا چې د کليساګانو له ميمبرونو واورول شوه په هغې کې بس مازې دومره ويل شوي ول چې د د کوپرنيکس د کسنې د رېښتينولۍ په زباتولو به بنديز وي. مګر هغه بيا هم د ګڼترې (رياضي) لپاره کارول کېدلای شوه. يوازې د هغې په «رېښتينولۍ» باندې بنديز ولګول شو.

هغه اووه کاله هيڅ هم خپاره نه کړل. خو له هغه وروسته په کال ۱۶۲۳ کښې يې *Il*) (*Saggiatore* وليکلو. په دغه لوستني کښې د پټولمي او کوپرنيکس د ملاتړيو ترمنځ ګايونه يا ډيالوګ و. هغه په دې باندې اووه کاله نور هم کار وکولو. مګر په دېر ترخ کښې يو څو پېښې وشوې. لومړی لوی ډېوک کوسمينو په نابېره توګه مړ شو او دی يې له سوري څخه بېبرخې شو. او تر دې بده لا دا وه چې په ځای ناستې يې هغه زړه رانې چې په لومړي سر کښې يې ټولې ناندرۍ او مرښې راپورته کړې وې. په روم کښې پاپا پول پينځم هم مړ شو او په ځای يې ګريګوري پينځلسم کښېناستلو څوک چې يو کمزوری او ډېر زوړ کس او بس دوه کاله په واک کښې پاته شو. بيا د هغه په ځای باندې کارډينال مافيو باربيريني کښېناستلو چې وروسته يې د اربن - پينځه دېرشم نوم غوره کړو. هغه ډېر د برم او نوم ورړی کس و. هغه لېوال و چې له ګاليليو سره ليده کاته وکوي.

ګاليليو هم چې روغتيا يې لږ ښه شوه ورته راغلو او شپږ ځله يې اوږدې اوږدې ليدنې ورسره وکولې. په دغو دوه په دوه ليدنو کښې ګاليليو هڅه وکوله چې نوی پاپا د کوپرنيکس د کسنې په رېښتينولۍ پوه کي او سخ (قانع) يې هم کي. که څه هم نوي پاپا تر ډېره بريده له ګاليليو سره سر ښورولو مګر دې ته تيار نه و چې د کسنې رېښتيونولي بېخي په ډاګه ومني او يا دې بنديز ورڅخه لرې کي. کله کله به يې دا هم ورته وويل چې «سپېڅلې کليسا کوپرنيکس غندلی نه دی او نه يې د هغه کسنه کوفرغرونه بللې ده، بس مازې دومره وايي چې هغه يو ډول بيره کړې ده او دا چې بېځايه يې خبز وهلی دي. که چيري يو څوک د هغې رېښتينولي زباتولای شي نو بيا به هغه بېځايه خبز نه بلل کيږي» په ځان باوري او ډاډه ګاليليو داسي و انګېرله چې نور نو هغه د کوپرنيکس په کسنې باندې څه ناڅه ليکلای شي تر څو چې په دينپوهنې کښې لاسوهنه نه کوي او همېشه له خپلو څېړنو سره کار ولري او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي هغۀ کؤر ته راستون شؤ نؤ يې په خپل لوستني چي دوګايه (Dialogue) نومېدلؤ باندي کار پيل کړؤ او په ۱۶۳۰ کښې يې تيار کړؤ. دا لوستنى نن هم د اټالوي ادب يوه غوره ټوټه بلل کيږي چي ډول ډال او سکښت جوړښت يې د سوکرات هغه ته ډېره ورته دی. دغه دوګايه د کانال ګرانډې په سيمه کښې د درؤ انډيوالانؤ تر منځ د يوې ورسې په بڼه لري چي دوه پکښې د ګاليليؤ خپل انډيوالان، سالوياتي او ساګريدو ول چي په دې وخت کښې دواړه مړۀ شوي ول. ساګريدو يې پکښې داسي ښکاره کړی دی چي زيات کار يې په ژوند کښې له دې دنيا سره دی، ډېر ځيرک دی، او د يوۀ سرخېل په شان خورا پراخ لېمون او ګروېږونکی سؤچ لري. سالوياتي بيا د کوپرنکس د اډانې او لېمون زياته لورينه کوي. درېيم کيردار ساده ګل (Simplicio) نوميږي د بدلون لؤرينه نۀ کوي او وايي چي د ژوند لاره چي څنګه روانه همدغسي ښه ده. که څه هم هغه د دې نؤرؤ دواړؤ د ټؤکؤ او ټکالؤ د بوسؤ خوځکی جوړيږي مګرهغۀ پخپله ډېر بې تاوانه او لېزمه کس وي.

درې سره دؤستان يوه درسته ورځ د مځکې ورځمهالي خوزښت (diurnal motion)په هکله رېښتينې (arguments)کوي. ساګرېدو دا لېمون ورمخته کړؤ ، چي که چيري مځکه د ختيځ پر لؤر لړ چټکه وګرځي نؤ مرغان به په هوا کښې خپله تؤله وبايلي، په مني کښې به پاڼې د ونؤ په لوېديځ لؤر ته تويې شي او د تؤپ هغه مړدکي چي په لوېديځ لؤر ويشتل شوي وي تر هغؤ مړدکو زيات واټن ووهي چي په ختځ لؤر وار شوي وي. سالوياتې د مځکې خوزښت له هغې کيښتې سره پرتله کړؤ چي په سمندر کښې ګرځي چي پکښې سپرې سورلې په ازاده تؤګه يوې بلې خوا ته ګرځېدلای راګرځېدلای شي په دې يې پروا نشته که هغه هوڅومره په چټکې روانه وي هم. همدغه راز مځکه هم له ځانه سره هر څه وړي. دا پروا نۀ لري چي هغه څيزونه په مځکې پوري ښېخي نښتي دي او که بل راز ورباندي زوړند دي لکه هوا او وريځې. نؤ د مرغانؤ لپاره هم کومه ستونزه او ربړ نشته .

د دوګايه ورسې په درېيمه ورځ – چي په رېښتيا ګاليليو څو کاله وروسته ليکلې وه – درې سره انډيوالان د هسک د ستروالي په هکله اټکلونه کوي. سالوياتي پيل کوي او وايي چي موږ کولای شو چي د مځکې له دې کمکې ټيکې (Planet) څخه چي پخپله په کال کې يو ځل د لمر شاوخوا چورلي د هغؤ بېشمېره ستوريو او ټيکيو د ځای ځايګي او خوزښت پته ولګوو چي په ارت او بېرت هسک کښې خواره وارۀ دي. هغۀ بيا د دغؤ ستوريو او ټيکيؤ د لريوالي په هلکه رغيږي او وايي چي واټن يې دومره لري دی چي زموږ سوچ په اسانه نۀ شي وررسېدلای. سيمپليسيو يې ورغبرګوي او ورته وايي چي خدای هيڅ اړتيا نۀ لري چي په دغؤ ستوريؤ او ټيکيؤ باندي دومره ناپايه پراخ ځای ونيسي چي اينسان ته يې هيڅ شمر هم نشته. ساګرېدو چي په رؤغتيا کښې ښه پوهه لري هغه په دې باندې خورا څنډې او ورته وايي ، اې ساده سړيه که موږ د درملنې لپاره هره ورځ د اينسانانو نسونه نه څيرلای نؤ څنګه به راته څرګندېدله چي موږ کولمې، سږي، بډوډي او نؤر غړي لرو. تر اوسه پوري موږ يوازي جيوپيټر پېژندلؤ خو اوس پوهېږو چي دا ستورى نؤرې سپوږمۍ هم لري. نؤ اې ساده ګله، که موږ د يوۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناپایه جهان په هکله نهیر (سؤچ) کوو نؤ د دې مانا دا ده چي خدای ته هغه ستر ځای ورکوو چي دی یې لري.

د هغؤ دغه ریښتینی په ۵۰۰ مخونؤ کښې لیکل شوې دی. په دغؤ ریښتینؤ کښې هغوی درېواړه د ارستؤ، پټولمي او کوپرنیکس د پؤهنې په اډانه په هر اړخ باندې هر راز ګایونه کړي دي . هغوی په درېیمه ورځ خپله وراسه بې له کومې پایلې پای ته رسوي. د کیردارونو په شان لوستونکو ته هم غوڅه وینا او پیغام نهٔ ویل کیږي بلکې هغوی ته پکار ده چي پخپله له خپل سؤچ او پؤهې سره سمه پرېکړه وکوي او پایلې ته ورسیږي. ګالیلیو د کرښؤ او غونډلؤ په کښلؤ کښې خورا په ځیرکوالي او په هوشیارۍ سره هڅه کړې وه چي د کوپرنیکس د اډانې ریښتینولي نېغ په نېغه زباته نهٔ کي . مګر د دوګاېي ریښتنیی او وراسه دومره زوروَره وه چي په هر هؤش لرونکي او سیانه لوستونکي یې دا منله چي د کوپرنیکس اډانه ریښتینې ده.
ګالیلیؤ خو خپله لیکنه بشپړه کړه مګر اوس یې د چاپولؤ لپاره د کلیسا اجازې ته اړتیا لرله. که څه هم د سیمپلیسمو کیردار ببخي د پاپا کړؤوړؤ ته ورته ؤ مګر ګالیلیؤ داسي نهٔ وه انګېرله چي په دې کښې به دهٔ ته کوم تاوان ورسیږي. د کال ۱۲۳۰ په مې میاشت کښې هغهٔ بیا رؤم ته روان شؤ چي د خپل لوستني د خپرولؤ اجازه ترلاسه کي.

په رؤم کښې چي کله هغهٔ د کتني او څارني لپاره خپل لوستنی وړاندې کړؤ نؤ په پیل کښې هرڅه ډېر ښه تېر شول. مګر وروسته شېخ ریکاردي یو څه بدګومانه شؤ ورباندې. نؤ ځکه خو لوستني بیا بیا وکتل شؤ . په پای کښې ریکاردي ګالیلیؤ ته اجازه ورکړه چي په رؤم کښې دې یې خپور کي مګر په دې ګره (شرط) چي د سر او پای ځینه برخې به یې داسي بدلوي لکه څنګه چي دوی غواړي. ګالیلیؤ دا ورسره ومنله او بېرته فلارنس ته راستون شؤ مګر له هغوی سره یې ژمنه وکوله چي په مني کښې به بېرته ورته راشي.

په دې منځ کښې په واټیکان کښې د ګالیلیو ملاتړی شازوی چیسي په نابېره توګه مړ شؤ. هم هغه به د ګالیلیؤ لوستني خپرولؤ. په همدې ورځؤ کښې په ټولې اټالیې کښې د تاوون وبا خوره شوه چي له کبله یې د وګړیو یوې بلې سیمې ته تګ راتګ ببخي په ټپه ودرېدلؤ. اوس چي لوستني په فلارنس کښې پرؤت ؤ او د هغهٔ کتونکي په رؤم کښې ول، نو ګالیلیؤ هم د خپلؤ شکومیؤ او انډیوالانؤ یوه ټلګري جوړه کړه چي په ریکاردي یې ومني چي لوستنی دې همدلته په فلارنس کښې چاپ شي. په مات زړه او تر ډېرې زؤرنې لاندې زاړه شېخ ریکاردي ومنله چي په فلارنس کښې دې چاپ شي. مګر بیا یې هم دا ګره کښېښؤدله چي هغهٔ پخپله د لوستني پیلامه او پایله کتلې ده خو د لوستني د نؤرؤ برخؤ لپاره دې په فلارنس کښې یو سم کس وګومارل شي چي بیا یې تر سترګؤ تېر کي. ګالیلیو هغه پېلامه چي د ریکاردي لخوا بدله شوې وه او د پاپا لخوا یوه زیاتونه هم پکښې ځای شوې وه په ډېره رخه او مات زړهٔ ومنله. خو وروسته هغه په دې باندې زورنه (فشار) اچوله چي دا دې په بېل کاغز او بل ډول ټایپ باندې ولیکل شي چي لوستونکو ته ببخي څرګنده وي چي کومه برخه د ګالیلیو خپله لیکنه ده او کومه یوه یې د کتونکو لخوا پرې ورزیاته شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوستنی د کال ۱۷۳۲ په پسرلي کښې خپؤر شؤ. د هغۀ ملګري او هم لوستونکي ډېر زيات خوښ وو. مګر د واټيکان غبرګون لږ ورؤ او وروسته راغلؤ ځکه چي د تاوون له کبله لوستنی هلته ناوخته ورسېدلؤ. کله چي د واټيکان چارواکو ولوستلؤ نو پوه شول چي له دوی سره چالاکي شوې وه. کله چي ريکاردي لوستنی ولوستلؤ نو ويې ويل: « دې لوستني چي کومه ښه غوره کړې ده نؤ جيسؤيټان به خامخا له هغۀ څخه ډېر تريخ پلېؤټ وکوي. مګر تر دې لمخه چي جيسؤيټانؤ يو څه ووايي پاپا پخپله پوښتنې پيل کړې. هغۀ باور کولؤ چي ريکاردي هڅې کښېوتلای دی چي يوۀ دغسي لوستني د چاپولؤ اجازه يې ورکړې ده او ورسر ه ورسر په دې ډېر خواشنيی ؤ چي په لوستني کښې چي د ساده ګل کوم کردار راغلی دی هغۀ په ريښتيا پخپله د پاپا پېښې کوي او مانا يې دا ده چي په هغۀ باندي يې ملنډې وهلې دي.

د دوګايه (Dialogue) چي کله خپؤر شؤ نؤ هغه يې ښه وخت نۀ ؤ. په دغه وخت کښې په اوروپا کښې چي د ګرؤهې په بنسټ کوم جنګونه روان ول هغۀ د واټيکان په ګټه نۀ ول. د پاپا د ايلچيتوب او مرکچيتؤب ټولې هلې ځلې له ناکامۍ سره مخامخ وې. په دغه وخت کښې له پاپا سره د نورؤ کسانؤ سختې ډغرې پيل کړې وې. ځېؤ به ويل چي هغۀ خو د ګاليليؤ په شان له ښوېدلو او بې لارې شويؤ کسانؤ سره دؤستي او ملګرتيا لري او ځېنؤ نؤرؤ به ويل چي هغۀ خو ببخي يو کمزؤری او ناتوانه پاپا دی ان چي بې لارې شويؤ کسانؤ ته هم هيڅ نۀ شي ويلای. يوۀ شېخ ورپسې وليکل چي پاپا نن سبا دومره ډارن شوی دی چي ببخي له خپلې مانۍ بهر نۀ شي راوتلای ځکه چي وېره يې په زړۀ ننوتلې ده هڅي نۀ چي څؤک زهر ور کي. کومې لارې چي تر واټيکانه پورې تللې دي په هغؤ يې تر لسؤ لسؤ ميلؤ پوري بدرګې او سامانې درولې دي او هر څؤک چي په دغؤ لارو تګ راتګ کوي نؤ هرومرو يې تالاشي اخيستل کېږي.

په دغؤ ورځؤ کښې جيسؤيټانؤ هم د هغۀ په غوړونؤ کښې پسپسی پيل کړی ؤ او هره شېبه به يې هغۀ ته ورپه يادوله چي ګاليليؤ چي کومه ژمنه له تا سره ښپاړس کاله پخوا کړې وه هغه يې د لوستني په خپرولؤ سره ماته کړې ده. پاپا چي په خپل برم او نوم باندي دغسي نيوکې واورېدلې نؤ يې و پتېله چي پکار ده يو څه زؤر او سام خلګؤ تر وروښيي. يو ځل هغۀ د خپلؤ ايلچيانؤ يوې غونډې ته وينا کوله او ډېر په خشم يې هغؤ ته وويل: «ستاسي ګاليليؤ په داسي کارونؤ کښې ګوتې وهلې دي چي هغۀ پکار نۀ ؤ. هغۀ ما ته دؤکه راکړه او له ما يې کار واخيستلؤ. اوس به زه هم هغۀ و کاروم او خوښ به يې شم»

## پلپؤټ او ګوبږنه

ګاليليؤ په فلارنس کښې ؤ. د هغۀ هلته يې خورا لوی لګېدلی ؤ او اګاه نۀ ؤ چي کيسه به دومرې ورانې ته وتلې وي. ځکه چي د هغۀ لوستنی ډېرؤ کسانؤ کتلی ؤ او اوس خو يې خورا ښه نوم هم موندلی ؤ او لوستونکؤ به ډېر ستايلؤ. هغۀ ډاډۀ ؤ چي که چيري کومې ناندرۍ او کشالې راپؤرته هم شي نؤ په اسانۍ سره به غلې شي. بله دا چي پخپله پاپا د هغۀ نيژدې دؤست هم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاپا هغهٔ ته کسان ورولېږل چي په دېرشؤ ورځؤ کښې دننه دي په رؤم کښې خپله پېشي وکوي. اېلچيانؤ هڅه وکوله چي د پاپا خشم يو څه ارام کي مګر پاپا زېل کړی ؤ او ويل به يې چي ګاليليو به يو ځل خامخا رؤم ته راځي او پېشي به کوي. ګاليليؤ هغهٔ ته د دريو ډاکټرانؤ لخوا يوه کتونی (سرټيفيکېټ) ورولېږلؤ چي پکښې ليکلي ول: «ګاليليؤ دا مهال د بېلابېلؤ سختؤ ناروغيو له لاسه رنځور دی او نهٔ شي کولای چي تر رؤم پوري مزل وکوي». مګر کتؤني هم په پاپا باندي کومه اغېزه و نهٔ کوله او بيا يې پيغام ورته راولېږلؤ چي بهانې نهٔ چليږي او دا ځل يې نؤر هم په کلکه ورته وويل چي که ګاليليؤ پخپله رانهٔ شي نؤ ځولنې به ورواچوئ او د بندي په څېر يې تر رؤمه پوري راوړئ او پلپؤټ ته يې وړاندي کئ.

په ۱۱ اپرېل **۱۲۳۳** کښې ګاليليؤ پلپؤټ ته يؤوړل شؤ او په دغه بل ګهيز د لوی څارنوال، بابا ويسنزوی دا فيرنزوالا، مخې ته لومړنۍ پېشۍ ته وبلل شؤ. هغه ته لؤړه ورکړه شوه او ورڅخه وپوښتل شول چي، ايا هغهٔ پوهيږي چي د څه لپاره پېشۍ ته راغوښتل شوی دی. هغهٔ هم ورته وويل چي کوم لوستنی چي يې ليکلی دی د هغهٔ په تؤر يې به يې راغوښتلی وي. ګاليليؤ په ډېره هوشيارۍ او ځيرکوالي هغوی ته وويل چي دهٔ **۱۲** کاله مخکې ژمنه کړې چي د کوپرنيکس کسنه به نهٔ زباتوي او نهٔ به يې ساتنه او ژغورنه کوي . مګر هغه ازاد دی چي د يوهٔ لېمون (Opinion)په تؤګه ورباندي خبرې وکوي.

له هغهٔ څخه وپوښتل شول چي تا د دغه لوستني د ليکلؤ لپاره اجازه ترلاسه کړې وه؟ هغه ورته وويل چي نه، ځکه په دا د هغه لېمون نه ساتنه کوي او نهٔ يې ژغورنه. په لوستني د دې خبرې ټينګار او پوخوالی نهٔ دی شوی چي مځکه چورلي او لمر ولاړ دی. په دا بله ورځ دينپؤهانؤ او ګروهپېژانؤ بيا لوستنی غونډله په غونډله او تؤري په تؤري ولوستلؤ او ښه په ډاډه تؤګه يې ځانونه پرې پوه کړل چي ګاليليؤ په ډېره ځواکمنه او زؤروره تؤګه د مځکې خوزښت او د لمر ټيکه زباته کړې ده. او هم يې په هغؤ کسان په ټؤکؤ ټؤکؤ کښې ښه سپک کړي دي څؤک چي دا نهٔ مني.

ګرؤهپېژان په دې ورسېدل چي ګاليليؤ هغه ژمنه ماته کړې ده کومه چي هغه په کال **۱۲۱۲** کښې کړې وه. هغوی په دې اړه نهٔ وه چي د هغهٔ لېمون سم دی او که ناسم. له هغوی سره بس دومره غم او ربړ ؤ چي د کليسا واک او برم ته تاوان رسېدلی دی. هغوی به ويل چي دا واک يوازي کليسا لري چي څه سم دي او څه ناسم دي. يو امي او جنجالي کس چي په دين او ګروهه باندي اګاه نهٔ وي څنګه کولای شي داسي کشالې په خپل سر هوارې کي او د اولسونه لارښؤونه دي وکوي.

لويې څارنوالۍ له ګاليليو سره يوازي او پټې ليدنې او کتنې وکولې او هغه ته يې وويل چي خپله تېروتنه او د ژمنې ماتونه دي ومني. که هغه منته (اقرار) وکوي نو ډېر په اسانۍ سره به وبخښل شي ؛ او داسي چوپ پاته شي نو څارنوالي به يو ډول نه ډول سزا بيا هم ورکي. او هغهٔ وچه نټهٔ (انکار) وکوي نؤ بيا به څارنوالي له دهٔ څخه د شکنجې په زؤر ډېرې ګرانې پوښتنې او ګوېژنې پيل کي چي په دؤديزه تؤګه له هغؤ کسانؤ څخه کيږي چي کوفر يې غرولی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ورځې وروسته يې هغهٔ يو ځل بيا پېشۍ ته راوغوښتلۀ چې پخپله منتهٔ (اقرار) ډاګيزه کي. هغهٔ وويل چې تېرې د پلپوړ په تېرو څۀ ورځۀ کښې يې خورا په نهير سره خپل لوستنی يو ځل بيا ولوستلۀ. هغهٔ له ډېره وخته راهيسي نۀ ؤ لوستلی نو ځکه خو ببخي داسي ورته ښکاره شۀ لکه يو نوی لوستنی چي وي او هغهٔ لکه يو بل چا چي ليکلی وي.

وروسته يې ګاليليو ټوسکاني ايلچي ته په لاس ورکړۀ چي يوهٔ زاړهٔ او ناتوانه کس د شکنجې او ترهې په زۀور دې ته تيار کي چي هر هغهٔ څه ناسم وبؤلي چي د دهٔ په پوره باور ببخي سم دي. مانا دا چي هغهٔ چي په خپل ژوند کې څومره کار ، څېړنه او موندنه کړې ده له هغې دي پخپله هم لاس په سر شي او د نړۍ نؤر وګړي دي ورڅخه بېبرخې کي. په کومه شپه چي يې هغهٔ د ټوسکاني ايلچي کؤر ته راوړلۀ نۀ ډېر مړزوانده شوی ؤ. هغهٔ د سوکرات په شان ياغي او سرؤبن نۀ ؤ چي د رينښتياؤ لپاره دي تر خپل سر تېر شي، بلکې يو داسي وګړی ؤ چي د جوارۍ يو داو يې اچولی ؤ مګر په دې کې ناکامه شوی ؤ چي نؤرۀ ته وروښيي چي رينښتيا څه دي. که هغهٔ نټه وکي او که منټه رينښتيا خو به بيا هم رينښتيا وي.

په ۱۰ مۍ هغهٔ يو ځل بيا پېشۍ ته راوستل شۀ. هغهٔ يو ځل بيا د شيخ بېلامابن لخوا لاسليک شوی کتؤنی (سرټيفيکېټ) وړاندي کۀ چي پکښې ليکل شوي ول چي هغهٔ به د مځکې د خوزښت لېمون نۀ سم بولي او نۀ به يې ساتنه او پلوی کوي. مګر دا نۀ ول پکښې ليکل شوي چي هغهٔ به يې ښؤونه نۀ کوي او يا به څېړنه ورباندي نۀ کوي. خو بيا هم هغهٔ باور لرلۀ چي د يوې وړې سزا په تؤګه به ورته لږه ګوتڅنډنه وشي او نؤر به نۀ په خپله مخه پرېښودل شي اوبس.

مګر په رؤم کښې کاغزونه اوس پاپا ته ورکړل شوي ول چي د وروستي ځل لپاره يې ولولي. او کله چي هغهٔ ولوستل نۀ يې وويل چي په دې کار کښې هيڅ نرمښت نۀ شي کېدلای. ګاليليۀ له هغې وايې (امر) څخه سرغړونه کړې ده چي هغهٔ ته نبغ په نېغه ورکړ شوې وه. له بندي څخه دي سمه ګوېږنه وشي، هغهٔ دي په شکنجې ووېرول شي او اړ دي ايستل شي چي توبه وباسي. بيا دي هغهٔ ته د سزا کالي وراغوستل شي ، د اولس په مخ کښې دي خېرزه کړ شي او به پای کښې دي زندان ته واچول شي.

په دا بله اونۍ کښې ګاليليۀ د څلؤرم او وروستي ځل لپاره پېشۍ ته راوستل شۀ. دا ځل هغهٔ په واز کومي و منل: «زه يې منم او په کلکه سره وايم چي د پټولېمي لېمون رينښتيا او سم دی چي وايي مځکه ارامه ولاړه ده او لمر په خوزښت کښې دی. او له کله چي ماته دا وايه شوې ده نو هيڅ کله د کوپرنيکس لېمون بيا رينښتيا نۀ دی بللی.» ګاليليۀ په ډېره بېچارګۍ او زارۍ دا وينا وکوله مګر جرګې د هغهٔ دا زارۍ او جګې و نۀ منلې. بلکې هغوی وويل چي دهٔ چي کوم لوستنی ليکلی دی د دهٔ اري لېمانۀ خو په هغهٔ کښې جوت دي. ګاليليۀ ورته وويل: « زه دلته ستاسي په مخ کښې ولاړ يم، څه چي ستاسي خوښه وي زه به يې منم»

په دا بل ګهيځ هغهٔ څه وشول چي ګاليليۀ يې هيڅ کله هيله نۀ لرله. دغهٔ مشر ،سپينږيری هوښيار کس چي زړهٔ يې له هرڅه مات شوی ؤ، سرتؤر سر، ابيلي پښې، د سزا په کاليۀ کښې نغښتی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دباندي راوايستل شؤ او بيا دې ته اړايستل شؤ چې د يوځ ډېر ستر سلبب مخې ته خپل سر ټيټ کي. جاره واره شيخان او ملايان ولاړ ول چې دځ ته يې دغه سزا واوروله: دی به د کوپرنيکس له لېمون څخه لاس په سر کيږي، د دځ په لوستنی، دوگايه، باندي به د کانون له مخې بنديز لگول کيږي او ليکوال دي يې په زندان کښې بنديوان شي او تر دريؤ کالؤ پوري دي هره ورځ هغځ اوه اشلؤکونه وايې چې د تؤبې لپاره دي. په هغځ وخت کښې چې کليسا کومې سزاگانې ورکولې دا په هغؤ کښې ډېره نرمه گڼل کېدله.

د پاته ژوند دپاره هغځ په خپل کور کښې په بند کښې وساتل شؤ. هغځ ډېر زؤړ شوی ؤ، سترگې يې ښېخې کمزورې شوې وې، او له زېروې يې ربځ وړلؤ. خو تر څؤ چې هغځ په بشپړه تؤگه ړوند شوی نځ نؤ بيا به يې هم پرلپسې کار کولؤ. که څه هم هغځ له ستؤرپېژندنې بند کړ شوی ؤ هغځ د پوهنې نؤرؤ څانگؤ ته مخه کړې وه. د ستؤرپېژندنې په ځای هغځ د خوزښتونو (Dynamics) باندي څېړنه پيل کړه او په دې ډگر کښې يې تر ستؤرپېژندنې هم زياتې برياوې وموندلې او د نوي فيزيک بنستونه يې کښېښودل.

گاليليؤ په ٨ جنوري ١٦۴٢ په خپله بيستره کښې مړ شؤ. هغځ دا وروستی هيله څرگنده کړې وه چې په فلارنس کښې د سانتا کؤر کليسا په هديدرې کښې د کورنی له نؤر مړيو سره يو ځای ښخ کړ شي. د کليسا نؤر شيخان تيار ول چې جنازه يې وکوي، بيا يې هلته يې ښخ کي او گؤر يې هم په مرمرؤ باندي وپؤښي. مگر پاپا باربېريني خپل زېل او کينه نځ پرېښؤدله او د هغځ د جنازې او گؤر رغولؤ اجازه يې ور نځ کړه. په کال ١٧٣٧ کښې يې د هغځ هډوکي په هغځ ځای کښې ښخ کړل چېرته چې د هغځ دوه نؤر هيوادوال، ميشلانگليو او ماکياويلي هم ښخ ول. او سل نؤر کلونه وروسته کليسا د هغځ له لوستنې بنديز لرې کړؤ.

مگر دا نؤ هغځ وخت ؤ چې په اټاليې کښې راټوکېدلې د بيابيداری ځلاند غورځنگ له سېکه لوېدلی ؤ او کليسا ورباندي بريالی شوې وه. مگر گاليليؤ چې د اينسانانؤ د ازادی لپاره کومې څېړنې کړې وې او گړاوونه يې گاللي ول هغه بېشمره او بېگټې پاته نځ شول. د اټاليې په ځای په نؤرو هيوادونؤ او اولسونؤ کښې داسې ښاغلي پيدا شول چې دا زبات کي چې د ساينس کانون يوازې او يوازې ازاد لټون او څېړنه غواړي ؛ يوه داسې څېړنه چې نځ د کليسا او نځ د کوم بل زورگير لخوا تربت او خپه شوې وي. هغځ چې د ساينسي لټون لپاره کومه لاره پرانيستله تر درېنيمو پېړيؤ پوري د پؤهنې مينانؤ او لېوالانؤ په هغې باندي يون اومزل وکولؤ. هم دا تکل او لټون ؤ او له ريښتياؤ او ازادی سره مينه وه چې د اتلسمې پېړی د ليتوالې (Enlightenment) ستر غورځنگ يې و پينځولؤ. د دې غورځنگ دا چيغه وه چې (Sapere aude) ، «بهادري وکوه چې پوه شې»

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**